# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد — بدین بوم وبر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم — از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com — afgazad@gmail.com

| Literary-Cultural | ادبی ـ فرهنگی |
|---|---|



محمد اسحاق برکت
ورجینیا ـ امـــریکا

۹ مارچ ۲۰۰۹

## د مَینو هـدیـره

چې د مینې لـه رواجه له رسـومـــــه بېرون زه شـوم
اوس مـې وینې لېــــونـــــــی او مجنـون زه شـــوم

نـــه له چا نـه مې ګیله او نــــه له چانه لاس په سریم
دا زمـا هغـه سـزا ده چې بېځـایه مفــــــتون زه شوم

تــورې سترګې، سپیـن رخساراو شنِــــه خالـــــونه
دسروشونډوپه سکروټوکې خـــام ویلې لړمون زه شوم

چې منــــــــې یې د بـوستان شولې ښکاره له ګریوانـه
زه څـــه ګــــرَم یم چې مجــــــرم او مظنون زه شوم

خمــاري سـتـرګــې د آشنــا دومـــــــــــره اثــري دی
اثــری شــوم پــــــه جادود توروسترګوافسون زه شوم

د یـارا نو پــه محفل کې چې خـــبره دعاشقۍ شـــــــې
په کوګل کې مې اوربل او په ځګر باندې خون زه شوم

وچې شونډې، هلتـه ګـــــورم چې جامونه پورته کېږي
بــد نصیبه بـد قسمتـه پــه دنیا پـه ګـــــــردون زه شوم

د وصال په سمندر کې یې د خیال غــــــــوټې وهمه
د پالنګ چـــــــړچې به نور کا قربانۍ د ببلتون زه شوم

ستـا د مینې په حرم کې نن تــــــول شوي رقیبان دي
لکه نن چې یم محـــــــــروم سبا به بیا او پرون زه شوم

په چمن کې يې د حسن بلبلان شور او نغمې کـــــــړي
زه به داسې يم خـــــــاموشه تر ابده، محزون زه شوم

دا پــه مــا بانــدې ښــــــه کانې را لوېد لي له آسمانـه
خپل وطنــــــه، خپل ټاټوبي خپل د ياره بيرون زه شـوم

د « برکت» د زړه ارمانــــــونه به هلِــته ور پوره شي
که مَينوهـديرې کې مې تن خښ او مدفـــــون زه شوم